# د ثبات د عامل په توګه د ځوانانو ګډون

## د افغان ځوانانو لپاره د دندې په رامنځته کولو سربیره د ښې راتلونکې په موخه د لوړې هیلې لرل

په دې توضیحي سند کې په افغانستان کې د ښاري ځوانانو ننګونې او فرصتونه مطالعه کیږي. په دې سند کې وړاندیز شوی دی چې ځوانان یوازې د دندې او معیشت فرصتونو ته اړتیا نلري بلکې په تصمیم نیولو کې د ښاري مدني ګډون لپاره د پیژندنې او عملي میکانیزمونو لپاره هم ضرورت لري. په دې سند کې د افغانستان د ځوانانو ننګونې په ګوته شوې دي. په دې سربیره، په هغه کې د ځوانانو لومړیتوبونه څرنګه چې د ښاري ځوانانو په ملي ورکشاپ د ۲۰۱۶ زکال په فبروری کې بیان شوي دي او درې هغه اقدامونه چې په عمده لومړیتوبونو لاس پورې کوي، وړاندې شوي دي. په ټوله کې په دې سند کې وړاندیز شوی چې د ځوانانو ونډه اخیستنه د ښاري پیوستون د برنامې په یوه عمده برخه(USP) بدله شي

۵ ګڼه مقاله، دوهمه لړۍ، مارچ ۲۰۱۶

### ځوانان په افغانستان کې


افغانستان، چې کابو ۸۰ ٪ وګړي یې له ۳۵ کلونو لاندې عمر لري، په نړۍ کې یو ځوان هیواد دی.[1]په دې حال کې چې د هغو ښارونو ځوانان چې پکې ژوند کوي  په بیلابیلو ډولونو کار، روزنې، بنیادي خدمتونو، عامه ځایونو او تفریحي سیمو ته د لاسرسي په ګډون په حکومتوالۍ او تصمیم نیونو کې بې برخې پاتې کړای شوي دي. پر تصمیم نیونو د استازیتوب اواغیز شیندنې فرصت نه لرل د دې لامل ګرځیدلی څو په ښاري پرمختیا او دچاپیریال په ښه والي کې د ځوانانو اړتیاوو ته لږ لومړیتوب ورکړل شي. په دې توګه ښارونه ورځ تر بلې په زیاتیدونکې توګه د ځوانانو لپاره په نامساعدو سیمو بدل شوي دي. په اوسنیو شرایطو کې، ځوانان د افغانستان په ښارونو کې ځوانان د خپل حالت د بدلولو یا د دوی فعاله ونډه اخیستنی ،د خپلې راتلونکې او د خپل هیواد د بدلون او ښه والي لپاره ډېر کم امکانات په واک کې لري. نو د یوه هراړخیز چلند، یعني د دندې په رامنځته کولو برسیره داسې هڅې ته اړتیا شته څو هغه بحران چې همدا اوس د افغانستان ځوانان ورسره مخامخ دي حل شي. د ځوانانو د ونډې اخیستنې په وسیله  به د راتلونکو فرصتونو لپاره هیله راوټوکیږي

### د عمل په وسیله بدلون: د ځوانانو تنظیم

ځوانان د یوې ټولنې ډېره مهمه او فعاله بشري سرچینه ده. نو، حکومتونه او ښاري ټولنې باید د ځوانانو جمعیت داسې یوه سرچینه وبولي چې د ښارونو له پرمختیا سره به مرسته وکړي کولای شی  نه یوه ستونزه او پیټی. د معمول تصور پرخلاف چې ځوانان یوه اړتیالرونکې سرچینه بولي، باید دافغانستان ځوانان د سوکاله ښارونو د رامنځته کولو لپاره ارزښتناک شریکان وي. د فکر د بنې په بدلولو سره د یو لړ اقدامونو په وسیله چې ځوانانو ته اجازه ورکوي په هغې ټولنه کې چې ژوند کوي ګډون وکړي او خپله ونډه ترسره کړي، ملګري اوسي.
د ۲۰۱۶ ز کال په فبروری کې د ښاري ځوانانو یو ملي ورکشاپ د افغانستان د ښارونو د راتلونکې برنامې(FoAC) اصلي شریکانو په مشرتابه د ځوانانو د چارو له معینیت سره جوړ شو. دا ورکشاپ چې په هغه کې څه د پاسه ۲۰۰ تنو ځوانانو برخه لرله د یو لړ مشورو یوه برخه ده چې د ښاري لومړیتوبونو د ملي برنامې لپاره جوړ شو. د ښاري لومړیتوبونو ملي برنامه چې د دولت په مشرتابه یو اقدام دی د ستراتیژۍ لومړیتوبونه به د ښارونو د حکومتوالۍ، استوګنې او اقتصاد په برخو کې د پالیسۍ او برنامې په کچه په ګوته شي. ګډون کوونکو ځوانانو د ډله ییزو مباحثو په وسیله د دندې او ونډې اخیستنې نه شتون په ګوته کړل( په مقابل ستون کې دې وکتل شي).
د عمده لومړیتوبونو لپاره لاندې عمده ستراتیژۍ چې په ورکشاپ کې د برخه والو ځوانانو لپاره په ګوته شوي دي، وړاندې شوي دي:
لاندې د دریو عمده لومړیتوبونو اقدامات چې په ورکشاپ کې د برخه والو ځوانانو له خوا پیژندل شوي دي بیانیږي.

### ۱. دنده:د معمولو کارونو په رامنځته کولو سربیره لوړ تفکر.

وزګارتیا یوه ډېره مهمه ننګونه ده چې د افغانستان ځوانان ورسره مخامخ دي.




### د لومړیتوب ورکولو نقشه

هغه عمده چالشونه چې د ښاري ځوانانو په ملي ورکشاپ کې په ګوته شوي دي، چې په هغه کې نسبي اندازه د دې ښکارندوي ده چې هره ننګونه څو څو ځلې تذکر موندلی دي.




[1] 'National Risk and Vulenrability Assessment 2011-2012', Central Statistics Organization, 2014.

دغې موضوع هم له ورکشاپ څخه په ترلاسه شویو پایلو او دغه راز په یوه نوې مطالعه کې چې په هغې کې ۷۰ ٪ ګډونوالو وزګارتیا د افغانستان د ځوانانو په وړاندې یوه ستره ننګونه وبلله، انعکاس موندلی دی.[۲] له وزګارتیا څخه ټولنیز او اقتصادي فشار او بې وزلي کارګران د دې حقیقت په وسیله چې زیاتره نجونې او هلکان چې باید د خپلو کورنیو د معیشت د تامینولو لپاره عاید ترلاسه کړي شدت موندلی دی. دغه راز د معیشتي ګزینو نه شتون د یاغي ډلو لور ته د تللو او یا د هغو زیات شمېر کسانو لپاره چې د ځان لپاره په افغانستان کې کومه راتلونکې نهویني له هېواد نه بهر د تللو خطر زیاتوي چې د افغانستان له ټولنې څخه د ((ماغزو د تېښتې)) لامل ګرځي. یوازې د دندو د رامنځته کولو په وسیله، د وزګارتیا له ننګونې سره مقابله نه شي کېدای د مهارتونو د پرمختیا د لارو چارو موندنه او د ځوانانو لپاره د معیشت ښه والی کولای شي چې هغوی ته تریوه حده وس ورکړي څو په خپلې راتلونکې کنټرول ولري او د ناهیلۍ احساس له ځانه لرې کړي، په دې توګه د وزګارتیا منفي اغیزې تریوې اندازې شنډې کړي. دغه موضوع په ځانګړې توګه په ښارونو کې صدق کوي.

**د کار د رامنځته کولو ترویج** د ځوانانو د معیشت د ښه والي لپاره یو بنسټیز اقدام دی.کېدای شي د سوداګرۍ د ودې مرکزونه د سوداګرۍ په پیل کې د هڅولو او آسانتیا لپاره کوچني اومنځني شرکتونه جوړ کړي. [۳] پانګې ته نه لاسرسي د سوداګرۍ د کولو لپاره د ځوانانو لپاره یو ستر خنډ دی او اوسنی موډل د غیر رسمي کار رامنځته کوونکي چې د کورنیو او ټولنیزو شبکو له خوا خپل مالي ملاتړ او اضافي کارکوونکي ترلاسه کوي له دوام او پایدارۍ څخه برخمن نه دي. نو له دې امله باید عامه (دولتي) مالي ملاتړ د سوداګرۍ د پیل او د کوچنیو او منځنیو شرکتونو لپاره په لاس کې وي، څو کارموندنه ترویج شي. دغه کار د میکروفینانس پورونو له لارې، نورو اعتباري تدابیرو په وسیله او د اسلامي بانکوالۍ، مالي کوپراتیفونو یا سوداګریزو بانکونو د رامنځته کولو له لارې ترسره کېدای شي.[۴]

**کېدای شي چې حرفوي زده کړه** او د ځوانانو زده کړه د فني دندو لپاره د کار د غواکونو نه شتون ته د رسېدنې لپاره زیات کړی شي. د افغانستان په ښارونو کې د حرفوي زده کړې زیات شمېر مرکزونه شتون لري چې په هغو کې ځوانان کولای شي د موبایل د ترمیمولو، ترکاڼۍ، خیاطۍ او نلکې زغلولو (نلدوانۍ) په څېر فني مهارتونه زده کړي.

د ښځو لپاره د حرفوي زده کړې غونډه. حرفوي زده کړه کولای شي د ښځو په ځواکمنتیا او د جنسیتي خنډونو په له منځه وړلو کې مهم نقش ولري.



### ۲. د ځوانانو ونډه اخیستنه: د نن ورځې ځوانان د سبا ورځې د لارښودونکو په توګه

ونډه اخیستنه د یوه بشري حق په توګه پېژندل شوې ده. دا د نورو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره یو اساسي اصل دی. نو باید د تصمیم نیونې په بهیرونو کې د ځوانانو د ونډې اخیستنې تامین په یوه عمده لومړیتوب بدل شي. د ځوانانو د ونډې اخیستنې په بېلګو کې دولتي ورکشاپونه، سیمینارونه، د پوهاوي برنامې اومدني کمپاینونه شامل دي. د ونډې اخیستنې دغه ډول د دولت، موسسو او خلکو له خوا د لازمو آسانتیاوو برابرول دي.

**د سیمې پرمختیایي شوراګانې** د افغانستان د ښاري مادي او ټولنیزې زېربنا په بدلون کې اساسي نقش لرلی دی. په دې توګه د ښاري پیوستون لاندې برنامه (NSP)، د کابل د پیوستون برنامه (KSP) او د ښاري زېربنا برنامه د خلکو په لارښوونه(CLUIP)

برابرې شوي دي چې د هغو بریالیتوب د سیمې د پرمختیایي شوراګانو اغیزمنتیا د پروژو په تطبیق کې د خلکو د فعالانه ونډې اخیستنې له لارې ښودل شوي دي.[۵]

د سیمې پرمختیایي شوراګانو د افغانستان د ښاري مادي او ټولنیزې زېربنا په بدلون کې اساسي نقش لری دی.په دې بنسټ د ښاري پیوستون لاندې برنامه (USP د سیمې د پرمختیایي شوراګانو موډل ته په ملي کچه پراختیا ورکوي. په دې توګه د ښاري پیوستون برنامه داسې یو فرصت دی څو ځوانان نېغ په نېغه د ښاري سیمو د تصمیم نیونې په بهیرونو کې شریک کړی شي، ښاري پیوستون د برنامې په طرحه او تطبیق د ځوانانو د میکانیزم د یوځای کولو( ادغام) په وسیله کولای شي د یوې ځواکمنې وسیلې په توګه د ځوانانو لپاره عمل وکړي. څو د خپلو ټولنو په پرمختیا باندې اغیز وشیندي او خپله راتلونکې په لاس کې ونیسي. د ځوانانو میکانیزم کولای شي په دوه ډوله وي: د ځوانانو پرمختیایي شوراګانې یا د سیمې په پرمختیایي شورا کې د ځوانانو فرعي کمیټې.

د ځوانانو پرمختیایي شوراګانې چې جوړښت یې د سیمې د پرمختیایي شوراګانو په څېر دی د ځوانانو له استازو څخه تشکیل شوي دي چې دنده یې پلان جوړونه او د برنامو تطبیق دی، انعکاس کوونکې ده. د ښځو د سیمې شوراګانو په څېر چې په هغو کې د ښځو توان بخشي یا ځواکمنتیا له لارې صورت نیسي، د ځوانانو د پرمختیایي شوراګانو ښه والی په مستقله توګه دا دی چې نوموړې شوراګانې به د ځوانانو پروژې طرحه او د هغو لومړیتوب وټاکي او په دې توګه په مشخصه توګه د ځوانانو اړتیاوو ته رسېدنه کېږي، په دې حال کې دا کار د سیمې د شوراګانو او د ځوانانو د پرمختیایي شوراګانو ترمنځ د ( تقابل ) د مخنیوي او د محدودو منابعو په خاطر د سیالۍ د مخنیوي لپاره د پیاوړو میکانیزمونو غوښتونکی دی.

له بلې خوا به د ځوانانو فرعي کمیټې د سیمې د پرمختیایي شوراګانو په دننه کې شتون ولري او د ځوانانو اړتیاوو ته د ټولنې د مشرانو د پام اړولو او په وړاندیز شویو پروژو کې د ځوانانو پر لومړیتوبونو د ټینګار د یوې وسیلې په توګه عمل وکړي.

له بلې خوا به د ځوانانو فرعي کمیټې د سیمې د پرمختیایي شوراګانو په دننه کې شتون ولري او د ځوانانو اړتیاوو ته د ټولنې د مشرانو د پام اړولو او په وړاندیز شویو پروژو کې د ځوانانو پرلومړیتوبونو د ټینګار د یوې وسیلې په توګه عمل وکړي. څو د ځوانانو فرعي کمیټه باید د ځوانانو د اړتیاوو او لومړیتوبونو په خاطر د سیمې د شوراګانو د پروژو په پرمختیا او هغو ته د لومړیتوب ورکولو په په برخه کې تبلیغ او خپل نفوذ وکاروي، چې ښایي ونه شي کړای د ځوانانو د پرمختیایي شوراګانو په څېر چې پر ځوانانو تمرکز ولري، ورته تمرکز وکړای شي.

له بلې خوا د ځوانانو فرعي کمیټې به د سیمې د پرمختیایي شوراګانو په دننه کې شتون ولري او د ځوانانو اړتیاوو ته د ټولنې د مشرانو د پام اړولو او په وړاندیز شویو پروژو کې به ډ خوانانو د لومړیتوبونو د ټینګار د یوې وسیلې په توګه عمل وکړي. په دې حال کې د ځوانانو د فرعي کمیټې خطر دا دی چې لومړی دغه کمیټه د ټولنې د زیات شمېر ځوانانو لپاره په تصمیم نیونه کې د فعالې ونډې اخیستنې امکان نه برابروي او دویم دا چې د ځوانانو د فرعي کمیټې غړي به د پروژو/په پرمختیا/ هغو ته په لومړیتوب ورکولو کې د ځوانانو د اړتیاوو او لومړیتوبونو لپاره الزاماً د تبلیغ او نفوذ د اعمال وس ونه لري.

ځوان هلکان چې په خالي واټونو کې د فوټبال لوبه کوي یوه معموله منظره د افغانستان په ښارونو کې یوه معمولی منظره ده. یوه بالقوه پروژه د ځوانانو لپاره کولای شي په محلاتو کې د ورزشي ساحو د رامنځته کولو لامل شي..



[2]´A Survey of the Afghan People', The Asia Fundation, 2015.
[3]'Switched On: Youth at the heart of sustainable development in Asia and the Pacific'. UN ESCAP, 2015.
[4]Ibid
[5]'Urban Solidarity' SoAC discussion paper 2, UN-HABITAT 2015.

### ۳. د ځوانانو چاپېریال: په ښار کې د ځوانانو د لاسرسي زیاتوالی

د افغانستان پـه ښـارونو کـې ځوانـان پـه بېلابېلـو لاروچارولـه ښـاري فضـا څخـه بـې برخـې کـړی شـوي دي. د دوی اندېښـنو تـه د لومړیتـوب ورکولـو لپـاره د مناسـبو لارو د نـه شـتون لـه املـه د ښـاري سـیمو پـه پرمختیـا او پراختیـا کـې د دوی زیاتـره اړتیـاوې پـه پـام کـې نـه نیـول کېـږي. دغـه کار د ځوانانـو لپـاره د تفریحـي سـاحو، د لوبـو د سـیمو د ورزشي سـاحو د نـه شـتون پـه وسـیله، پـه ځانګـړې توګـه د ښـځو او نجونـو لپـاره تـر سـترګو کېـږي. نـو معمـولاً لیـدل کېـږي چـې ځوانـان پـه واټونـو او د ځمکـو پـه خـالي قطعـو کـې پـه ښـارونو کـې لوبـې کـوي. زیاتـره محـدود فرصتونـه د دوی پـر مـادي محیـط د ځوانانـو د اغیـز شـیندنې لپـاره د دې لامـل ګرځېدلـی دی چـې ځوانـان کـم او زیـات د خلکـو پـه نظـر ورنـه شي .

دغـه راز ځوانـان پـه ټولـه کـې د عامـه ترانسـپورت او پـه ځانګـړې توګـه جنـدر تـه چـې پـه مشـخصه توګـه د ځوانـو نجونـو لپـاره ښـوونځي او پوهنتـون تـه د تـګ راتـګ پـه برخـه کـې سـتونزه پیـدا کـوي د لېـږد رالېـږد پـه برخـه کـې لـه جـدي محدودیتونـو سره مخامـخ دي، د لېـږد رالېـږد محدودیتونـه زیاتـې ټولنیـزې او اقتصـادي پایلـې لـري، ځکـه د دې لامـل ګرځـي چـې ځوانـان او ښـځي ونـه کـړای شي د ښـار زیاتـرو سـاحو تـه لاسرسـی ولـري.

**د ښار د ښکلي کولو تدابیر** لکـه دېـوالي انځورونـه د ښـار د بیارغونـې لپـاره یـوه ځواکمنـه وسـیله ده چـې د جګـړې پـه وسـیله تعریـف شـوي دي. پـه افغانسـتان کـې ځوانـان پـه جګـړه کـې نـړۍ تـه راغـلي دي او لـوی شـوي دي چـې ړنګـې شـوې ودانـۍ، ایـرو تـه ورتـه حفاظتـي دېوالونـه، امنیتـي پوسـتې او پـه موانعـو بانـدې تـړل شـوي واټونـه د دوی لپـاره عـادي دي، لـه دې پدیـدې سره د مقابلـې لپـاره او د هیلـې او ډاډ د پیداکولـو لپـاره، د دېـوالي انځورګـرۍ لپـاره ځـو پـروژې جریـان لـري. یـوه انګیـزه یـې د ښـار ښـکلي کـول دی، خـو پـه همـدې انـدازه د ښـار د ترلاسـه کولـو لپـاره لیوالتیـا او دچاپېریـال انسـاني کـول اهمیـت لـري. ځرنګـه چـې کبیـر پـه بشـپړه توګـه وضاحـت ورکـوي(( کلـه چـې یـو تصویـر پـر دېـوال انځـوروو، دېـوال ورکیـږي او تاسـو پـه یـوه نـوې فضـا کـې قـرار نیسـئ، دا زمـا لپـاره ډېـره مهمـه ده))[6]پـه دې پـروژه کـې دی هغـو افـرادو تـه چـې د تصویرونـو لـه ځنګ څخـه تېرېـږي د انځورګـرۍ یـو قلـم وړانـدې کـوې او پـه دې ترتیـب عـادي خلـک د ښـار لپـاره د یـوه توپیـر لرونکـي حکایـت لپـاره یـو ځـای کـوي. د افغانسـتان ځوانـان د دې ډول پـروژو پـه وسـیله فرصـت ترلاسـه کـوي ځـو پرخپـل چاپېریـال یـو مثبـت علامـت کېـږدي او د راتلونکـې لپـاره هیلـه راټوکـوي. .

کبیـر مکمـل، انځورګـر او همـکاران یـې د دېـوال پرمـخ د تصویرونـو د ترسـیمولو پـه وخـت کـې «زمـا د ښـار اتـلان»، د اتلانـو توګـه د عـادي خلکوملانځلـو لپـاره





## نړیواله بیلګه : «واحد مرکزونه»

واحـد مرکزونـه دځوانانـو لپـاره خونـدي او ځـو کاره فضـا برابـروي ځـو لـه یـو بـل سره وګـوري او دځوانانـو د پرمختیـا لپـاره لازمـو معلوماتـو او سرچینـو تـه لاسرسـی پیـدا کـړي.[7] د ځوانانـو لومړنـی واحـد مرکـز پـه ۲۰۰۳ ز کال کـې پـه نایـروبي ښـار کـې د UN-Habitat د موسسـې لـه خـوا د سـیمه ییـز حکومـت پـه همـکارۍ رامنځتـه شـو او نومـوړې برنامـې تراوسـه پـورې پـه ټولـه افریقـا کـې پنځـو مرکـزي ښـارونو تـه پراختیـا مونـدلې ده.

واحـد مرکزونـه هغـه سـیمې دي چـې پـه هغـو کـې ځوانـان کـولای شي مهارتونـه او زده کـړې ترلاسـه کـړي او خپلـو ځواکمنتیـاوو تـه انکشـاف ورکـړي. مشـخص خدمتونـه پـه هـر مرکزکـې ډول ډول دي او کـولای شي لانـدې داسـی برخـې لکـه :هـنر او ورزش، د دنـدې رامنځتـه کـول، کارموندنـه، روغتیایـي خدمتونـه او معلومـاتي ټکنالـوژي او اړیکـې وي. هغـه عمـده سـاحې چـې د ځوانانـو مرکزونـه پـر هغـو تمرکـز لـري عبـارت دي لـه:

- حکومتـوالي: پـه ښـاري حکومـت والـۍ او د ښـاري پالیسـۍ پـه انکشـاف کـې د ځوانانـو دونـډې اخیسـتنې هڅونـه.
- خونـدي فضـا: پـه یـوه خونـدي چاپېریـال کـې د تفریحـي فعالیتونـو، خدمتونـو او معلوماتـو د ترلاسـه کولـو پـه موخـه د ځوانانـو د لاسرسي پـه مقصـد د یـوې سـیمې برابـرول.
- د ځوانانـو ونـډه اخیسـتنه: د پالیسـیو او د ځوانانـو پـه سـتراتیژیو کـې لـه ښـارونو سره مرسـته.
- رضـاکاري: پـه ښـار کـې د ځوانانـو ترمنـځ د رضـاکارۍ د فرهنـګ پـه رامنځتـه کولـو کـې مرسـته.
- جندر: د ښځو او ځوانو نجونو ملاتړ او د هغوی د اړتیاوو د رسیدنې ملاتړ.

د ځوانانـود یـوه واحـد مرکـز مـادي شـتون بـه د افغانسـتان ښـارونو ته یوښـه مرسـتندوی یـا متمـم وي چـې پـه اوس وخـت کـې ډېرکـم محـلات چـې د ځوانانـو ترمنـځ دلیدنـو کتنـو او تعامـل لپـاره یـې پـه ځـان کـې لـري، ځکـه د شـته حمایـوي برنامـو پـه بـاب د معلوماتـو خپـرول زیاتـره وخـت سـتونزمن وي، د نومـوړو مرکزونـو د ځـو دندیـزو طرحـه کېـدای شي د معلوماتـو پـه خپرولـو کـې دخدمتونـو او د شـته برنامـو پـه اړه د ځوانانـو لپـاره د ښـار پـه ګـوټ ګـوټ کـې هـم مرسـتندوی وي.




د بیلګـې پـه توګـه، روغتیایـي تلیفـوني کرښـه، UNFPA موسسـې او عامـې روغتیـا وزارت لـه خـوا پـه ۲۰۱۲ز کال کـې پیـل شـوه، کیـدای شي چـې پـه دې مرکـز کـې جـوړه شي. د افغانسـتان ځوانـان پـه ځانګړېتوګـه لـه نشـه یـي توکـو څخـه نـاوړه اسـتفادې پـه شـمول د روغتیایـي سـتونزو پـه وړانـدې زیـان منونکـي دي او لـه خطـر سره د مخامخـو ځوانانـو د ملاتـړ لپـاره ځرګنـدو اقداماتـو تـه ضرورت دی

دغـې اندېښـنې تـه پـه ځـواب کـې، تلیفـوني کرښـه پـه محرمـه توګـه د افغانسـتان د ځوانانـو لپـاره دقیـق روغتیایـي معلومـات د روغتیایـي متخصصینـو لـه مشـورې او وړانـدې قضـاوت پرتـه برابـروي. دغـې شـمېرې تـه زنـګ وهـل وړیـا دي او خدمتونـه یـې هـره ورځ پـه پښـتو او دري ژبـو پـه واک کـې دي. ډاکـتران بـه زیـات شـمیر پوښـتنو تـه د بلـوغ او د بـدن د غړیـو لـه معلوماتـو څخـه نیولـې، د نویـو زېږېدلـو د مراقبـت، د تغذیـې او بـشر د حقوقـو تـر معلوماتـو پـورې ځـواب وایـي او د لـزوم پـه صـورت کـې راغـلي کسـان د روغتیایـي او حفاظتـي مناسـبو خدمتونـو تـه راجـع کـوي، پـه اوس وخـت کـې ښـایي د روغتیایـي تلیفونـې ځـو کرښـې لـه دفـتر څخـه لیدنـه وکـړي او لـه واحـد مرکـز سره د هغـه د خدمتونـو شریکـول کـولای شي دغـه تلیفـوني کرښـه زیاتـه د لاسرسي وړ وګرځـوي او هغـې تـه د ځوانانـو لاسرسـی زیـات کـړي.

[6] ‘Afghan graffiti artist strives to beautify Kabul’, Al Jazeera, 26. August 2015. http://www.aljazeera.com/blogs/asia/2015/08/afghan-graffiti-artist-strives-beautify-kabul-150826090658859.html

[7]‘UN-Habitat One Stop Youth Centre Model’, UN-HABITAT 2015.

[8] ‘Voice of Afghan Youth, PARSA, 2015. ‘http://afghanistan-parsa.org/voice-of-afghan-youth/

### د پیښې مطالعه: د افغانستان د خلکو غږ:

د افغانستان د ځوانانو غږ[8] یوه راډیویي او ټلویزیوني پروژه ده چې ننداري ته د ځوانانو د استعدادونو، نوښتونو او لرلیدونو د وړاندې کولو لپاره د افغانستان په ګوټ ګوټ کې طراحي شوې ده اولیدونکي ته د افغانستان د ټولنو د لیدني لپاره د ځوانو نجونو او هلکانو له نظره بلنه ورکوي. دغه ډول برنامې د سیمه ییزو ځوانانو د کیسو او د دوی د تجربو او د هیواد او راتلونکې په باب یوه وسیله برابروي. دغه پروژه په هیواد کې د یوه سراسري پوښښ په وسیله د ځوانانو لپاره د الهام د منبع په توګه عمل کوي څو ځوانان پخپلو سیمه ییزو ټولنو کې ونډه واخلي او ډاډ ترلاسه کړي چې دوی یوازې نه دي.




### د رضاکارۍ د فرهنګ پرمختیا

له دې سره سره چې په اوس وخت کې رضاکاري په افغانستان کې ډېر شهرت نه لري، خو رضاکاري کولای شي د ځوانانو توان او نوښت ته د استقامت ورکولو لپاره یوه اغیزمنه وسیله وي. رضاکاري د کار په وسیله د مشترکي موخې په مقصد کولای شي د ګډ لید لوري او د مسوولیت له حس او تعلق له القا سره کولای شي د ټولنو او ښارونو په نږدې کولو کې مرسته وکړي. څرنګه چې په سیمه ییزو پروژو کې چې په هغو کې د سیمې خلک پخپلو هڅو او هلو ځلو د پروژو په تطبیق کې ونډه اخلي یا د استوګني په غیر رسمي سیمو کې چې په هغو کې خلک د غونډیو او تپو ترڅنګ د کورونو په جوړولو کې مرسته کوي لیدل کیږي، د مرستې فرهنګ له پخوا څخه په افغانستان کې شتون لري. په دې ترتیب د رضاکارۍ د پرمختیا له پخوا څخه شته دی او څرنګه چې د ځوانانو د ورکشاپ له پایلې څخه څرګندېږي، ځوانان له رضاکارۍ سره مینه لري. خو په دې نه پوهیږي چې په څه ډول او له کوم ځایه یې پیل کړي. نو پردې بنسټ په رضاکارۍ کې د ونډې اخیستنې د بنې رامنځته کول کولای شي په ټولنیزو اقتصادي منابعو کې د ځوانانو د پانګې اچونې یوه ساده لاره او په عین حال کې د ونډې اخیستنې له لارې د هیلې پیدا کېدل وي.



## راتلونکی مسیرونه:

- په ښارونو کې د ځوانانو ستونزو ته د رسېدنې لپاره د هڅې په وخت کې د سملاسي دندې له رامنځته کولو څخه لوړ تفکر د ښاري حکومتوالۍ په بهیرونو کې د ځوانانو دخیلول او په تصمیم نیونه کې د هغوی ونډه اخیستنه. دغه کار به په ټول حکومت کې د اړوندو شریکانو او دغه راز د مدني ټولنې د ډلو ترمنځ د اړیکو غوښتونکی وي.
- د ښاري پیوستون په لاندې برنامه (USP) کې د ځوانانو شاملول. د ځوانانو د پرمختیایي شوراګانو یا د ګذر د ټولنو د رامنځته کولو، یا د هلکانو اوشځو د سیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو کې د فرعي کمیټو د جوړولو له لارې ترسره شي. په نوموړو ټولو اشکالو کې دې ډاډ ترلاسه شي چې یوه ملپاټه «ضمیمه» نه، بلکې جوړښتي برخه د برنامې په طرحه کې د اړوند تمویل له تخصیص سره د ځوانانو د لومړیتوب لپاره وي.
- په یوه منظم او سازمان موندلي میکانیزم کې چې د مهارتونو انکشاف ته اهمیت ورکړي او مشرتوب ترویج کړي.
- د حرفوي زده کړو او د سوداګرۍ د مرکزونو د ودې په شمول د ځوانانو د اړوندو خدمتونو او اسانتیاوو د ملاتړ په موخه د ښاري ځوانانو لپاره د واحدو مرکزونو په جوړولو باندې غور.

د افغانستان د ښارونو راتلونکې پروګرام د ښاری لومړیتوب د ملی پروګرام په انکشاف کی کمک کوی چی دا به را روانه لسیزه کی د افغانستان د ښاری لومړیتوب برخه وی دی لومړیتوبونو کی به د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام ۵ ښاری زونونو او ۲۰ ستراتیژیکو ولسوالیو ښاروالی تحلیل او تجزیه کیږی چی مهم معلومات او دقیق ارقام به لاس ته راشی اود موثری پالیسي او ملی پروګرامونو په ترتیبولو کی به وړاندیزونه وشی .

© ۲۰۱۶ دغه مباحثي پاڼه یوازی د غیر تجارتی موخه لپاره د ملګرو ملتونو د بشر د میشته کیدنی پروګرام په لیکل شوی ژمنی سره امکان لری چی تکثیر، انتقال او یا د بیا پیدا کیدو سیستم کی وساتل شی. کوم تعریفات، څیرنه، نتیجه ګیری او سفارشونه په دی نشریه کی د ملګرو ملتونود میشته کیدنی پروګرام د لارښوونی شورا ، د دی پروګرام د غړو هیوادونو او یا د افغانستان، استرالیا او انګلستان حکومتونو د نظریاتو ښکارندونی نه دي.